**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو عمومی سرمنشي بان کی مون افغانستان ته راورسید

د ۲۰۰۹ کال د نومبر دوهمه نیټه: د ملګرو ملتونو سرمنشي بان کی مون نن افغانستان ته وروسته له هغې چې تیره اونی په کابل کې د ملګرو ملتونو پر یوه میلمستون برید وشو او د هغه په نتیجه کې پنځه تنه کارمندان ووژل شول او یو شمیر نور ټپیان شول راورسید.

بان کی مون به د ملګرو ملتونو د کارمندانو، د خپل ځانګړی استازی او په کابل کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پلاوی (یوناما) د مشر ښاغلی کای ایده، د ملګرو ملتونو د موسسو له مشرانو او امنیتي چارواکو سره وګوري.

د ملګرو ملتونو سرمنشي به همدارنګه له ډاکټر عبد الله عبد الله او ولسمشر کرزی سره وګوري څو هغوی ته او د افغانستان خلکو ته د ملګرو ملتونو د هغو جاري مرستو اطمینان ورکړي چې د دغه هیواد د پرمختګ لپاره او هغه بشردوستانه مرستي چې ملګرو ملتونه یي میلیونونو افغانانو ته هره ورځ برابروي.

تیره اونی بان کی مون د ملګرو ملتونو په میلمستون باندي د برید په غبرګون کې په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې په نیویارک کې وویل: "هغوي چې خپل ژوند یي له لاسه ورکړیدی... افغانستان ته د ټوپک اومرمیو سره نه و راغلي. هغوي هلته د ځواکمني وسلي سره چې هیله ده راغلي و. د افغانستان د ښې راتلونکي په هیله، او د یوې ژمني سره چې دغو خلکو ته خدمت وکړي څو هغوي یوه ښه نړۍ او ښه راتلونکي جوړه کړي. موږ به د دغه نیک او غوره ماموریت څخه ډډه و نه کړو. موږ نن ورځ د افغانستان د خلکو سره ولاړ یو او دغه کار به سبا هم کوو."

بان کی مون د ۲۰۰۹ کال په فبرورۍ او د ۲۰۰۷ کال په جون کې له افغانستان څخه د ملګرو ملتونو د سرمنشي په توګه لیدني ترسره کړي.